# مرګ به د يو برګ پسه په څېر راوستل شي

له ابو سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «مرګ به د يو برګ پسه په څېر راوستل شي، يو اواز کوونکی به غږ وکړي: اې جنتيانو، دوی به غږ او سرونه راپورته کړي او ګوري به، وبه وايي: آيا تاسو دا پيژنئ؟ هغوی به ووايي: هو، دا مرګ دی، پداسې حال کې چې ټولو مخکې ليدلی و، بيا به آواز وکړي: اې دوزخيانو، نو غږ او سرونه به راپورته کړي او ګوري به، وبه وايي: او آيا تاسو دا پيژنئ؟ هغوی به ووايي: هو، دا مرګ دی، په داسې حال کې چې ټولو مخکې ليدلی و، نو حلال به کړای شي، بيا به ووايي: اې جنتيانو، تلپاتې اوسئ؛ مرګ نشته، او اې دوزخيانو تلپاتې اوسئ مرګ نشته، بيا يې - دا آيت - ولوست: {وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ} [مريم: 39] او ته دوی د حسرت (او ارمان) له ورځې نه ووېروه کله چې به کار فيصله کړی شي، حال دا چې دوی (اوس) په غفلت کې دي، او دوی د دنيا خلک په غفلت کې دي {وَهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ} او دوی ايمان نه راوړي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د قيامت په ورځ به مرګ داسې راوستل شي لکه د پسه په څېر چې سپين او تور وي. نو غږ به وکړای شي: اې د جنت خاوندانو! دوی به خپلې غاړې او څټونه راوږده کړي او سرونه به راپورته کړي او ګوري به، نو ورته به ووايي: آيا دا پيژنئ؟ هغوی به ووايي: هو، دا مرګ دی، پداسې حال کې چې ټولو ليدلی او پيژندلی دی. بيا به آواز کوونکی آواز وکړي: اې د اور خاوندانو، نو څټونه او غږ به راوږدې کړي، سرونه به راپورته کړي او ګوري به، او و به وايي: آيا دا پيژنئ؟ هغوی به ووايي: هو، دا مرګ دی، پداسې حال کې چې ټولو مخکې ليدلی و؛ نو حلال به کړای شي، بيا به آواز کوونکی ووايي: اې د جنت اوسېدونکو، د تل لپاره ژوندي اوسئ، مرګ نشته، او ای دوزخيانو، د تل لپاره ژوندي اوسئ، مرګ نشته. دا - وينا - مؤمنانو ته په نعمتونو او کافرانو ته په عذاب کې د زياتوالي له امله کيږي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم دا آيت ولوست: {وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لا يُؤْمِنُونَ} [مريم: 39] (او ته دوی د حسرت (او ارمان) له ورځې نه ووېروه کله چې به کار فيصله کړی شي، حال دا چې دوی (اوس) په غفلت کې دي او دوی ايمان نه راوړي) نو د قيامت په ورځ به د جنتيانو او دوزخيانو تر منځ جلاوالی راوستل شي او هر يو به خپل ځای ته د تل لپاره ورننوځي. نو بدي کوونکی به په نيکۍ نه کولو پښيمانه شي او کوتاهي کوونکی به هم پښېمانه شي چې ولې يې نه عملونه زيات ندي کړي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65035